د سلام نړیوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
*Journal Homepage: https://journal.salam.edu.af*
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# د ځوانانو د مهاجرت په مخنیوي کې د آزاد کار رول او اغېز

پوهندوی بادام نیازی[1]، پوهنمل محمد اکبر شاهپور[2]

DOI: 10.64104/v10.Issue.17.n3.2025

ISSN: 3078-9575 (Print)    ISSN: 3078-9583 (Online)
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۰۵/۰۸    تعداد صفحات: ۱۴    از صفحه ۳۹ تا ۵۲

## لنډیز

دا څېړنه د ځوانانو د کډوالۍ د مخنیوي لپاره د فریلانسنګ د رول او اغېزو ارزونه کوي، چې څنګه کولی شي د ځوانانو د کډوالۍ مخه ونیسو، په ځانګړي ډول په هغو سیمو کې چې کار موندنه پکې کمه ده او د بې‌کارۍ له امله ځوانان مهاجرت ته اړ کېږي. د څېړنې موخه دا ده چې وښیي فریلانسنګ څنګه د ځوانانو لپاره د عاید لاسته راوړلو، مهارتونو د پراخېدو، ټولنیز ملاتړ او اقتصادي ثبات سبب ګرځي.

په دې څېړنه کې کیفي میتود کارول شوی، او معلومات له مختلفو سرچینو لکه کتابونو، راپورونو، مرکو او نړیوالو تجربو څخه راټول شوي دي. د څېړنې لپاره د افغانستان، بنګله‌دېش، فلپین او کینیا فریلانسنګ تجربې مطالعه شوي دي.

د څېړنې پایلې ښیي چې فریلانسنګ یو انعطاف‌پذیر او دوامدار عایداتي فرصت دی، چې ځوانان پرې له خپلو کورونو نړیوالو بازارونو ته کار کولی شي. دا کار د هغوی اقتصادي حالت ښه کوي او ټولنیز ثبات ته وده ورکوي. په افغانستان کې د ۲۰۲۳ کال فریلانسنګ پروګرامونو ښودلې چې زرګونه ځوانان یې د بېکارۍ له خطره ژغورلي او د هغوی ژوند یې مثبت بدل کړی دی.

څېړنه وړاندیز کوي چې د فریلانسنګ د ودې لپاره باید د مسلکي زده کړو پروګرامونه پراخ شي، انکوبېټرونه جوړ شي، د انټرنېټ او وسایلو اسانتیاوې زیاتې شي، او امارتي او خصوصي اداري باید په ګډه کار وکړي. دا ټول اقدامات کولی شي د فریلانسنګ له لارې د ځوانانو د کډوالۍ ستونزه کمه کړي او د ټولنې اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره کړي.

**کلیدي کلیمې: ځوانان، کډوالي، فریلانسنګ، اقتصادي فرصتونه، ټولنیز ملاتړ، اقتصادي ثبات.**

[1]. ننګرهار پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځی، د معلوماتي سیستمونو څانګه، badam@nu.edu.af
[2]. کندوز پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځی، سافټویر انجنیری څانګه، akbarshshpoor@gmail.com

The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.
استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد